﴿ ۱۳ ﴾

# زابل او د زابل مشران

زابل یا زاول زموږ د وطن هغه سمسوره او ښکلې برخه ده چي يو وخت له غزني څخه بيا د هلمند تر غاړو اوسيستانه پوري ټوله سيمه په دغه نامه يادېده، او زاولي قبيله د وروستنيو کوشانيانو يوه مهمه ډله وه، چي ددوي په نامه دغه سيمي نومول سوې وه.

زاوليان تر دريمي مېلادي پيړۍ را په دې خوا په دغه سيمه کښي د برم خاوندان وو دوي تکړه اوبريالي مشران درلودل، چي پر ټول خراسان باندې تر اباسينده اوکشميره د زاول شاه يا د فردوسي په قول "زابل خدای" په نامه حکمراني کوله.

د زابل شاهانو مرکزونو په غزني يا روزگان يا سيستان کښي وو چي ددوي مفصل او مرتب تاريخ موږ ته نه دی پاته، مگر د تاريخ پوهان ددوي نومونه اواحوال له دوو مثبتو منابعو څخه معلوموي چي هغه ددوی سيکې او ځني پر ډبرو نوشتې دي.

د زابل نوم خوپه تاريخ کښي ډېر وسعت درلود مگر اوس پر دغه سيمه باندې چي د غزني او کندهار تر منځ پرته ده، ځکه اينبو سوئ، دي چي دغه سيمه د پخواني لوي زابل په زړه او منځ کښي واقع ده. له زابلشاهانو څخه څو ډوله او په درې خطه سيکې پاته دي چي يوناني رسم

الخط ئې زاول او په براهمي هندي خط ئې جاوله، جبووله بللې دی، او دوي د څلرمې مېلادي پېړۍ په پاي کښې د هند تر سرحدونو پورې ور رسېدلی وو چې د ډکټر جونکر په قول د دوي مسکوکات په بلخ کښې سکه کېده، او هم دغه محقق وايي چې د زاول شاهانو ځيني سيکې داسې دي چې په مرو کې به سکه سوي وې. او په پهلوي ژبه دي.

د دغو شاهانو پر سکو باندې د دوي جولې او کره وره هم ضرور نقش کېدل چې خورا جګې پزې، غټې سترګې ، تيکې غاړې، او تکړه بدنونه او پراخ بارخوګان او تندي لري، چې دغه ټول صفات اوس دزابل په تره کو اوسليمانخيلو اوناصرو کښې په ښه ډول ليدل کيږي او په دوي کښې کيداريان، شيران، لويکان، سګزيان، رتبېلان، خاص خاندانونه وو. چې په غزني، ګرديز، غرج، باميان، سيستان، رخج کښې ئې پادشاهي درلودې.

له مسکوکاتو څخه دلويو زاولي شاهانو دغه نومونه تراوسه پېژندل سوېدي :

کيداره د څلرم مېلادي قرن په منځ کښې، شيردکېداره زوي، کنګ خاس دکېداره زوي، ور هران چې تر شېر وروسته پادشاه سوي و،اخشوان لوي هفتالي پادشاه چې دپارس ساساني پادشاه پيروز ئې په ۴۸۵ م کښې مات کئ او له پارسه تر هنداو ختن پورې ئې سلطنت و.

دهفتالي کورنۍ بل لوي پادشاه توره من نومېدئ، چې هند ئې فتح کئ او هلته ئې سيالکوټ په پنجاب کښې خپل پايتخت وګرزاوه، او په هندي نوشتو کښې ئې نوم "مهاراجه توره من د زاول پادشاه" ليکلی دی. دی په ۵۰۲ م مړسو او زوي ئې ميره کوله پر تخت کښېنوست چې خپل سلطنت ئې له مرولزبادغيس څخه دهندوستان تر منځه ورساوه او دوه



زره جنګي پيلان ئې درلودل چې دکشمير په تاريخ کښې په سختو خونرېزيو مشهور دی او په ۵۴۲ م مړ سو.

د دغو زاولي شاهانو بقا يا د اسلام تر فتوحاتو پورې لا هم پاته وو، او کله چې اسلامي فاتحان په اووم قرن کښې راغلل نو دوي ځينې مسلمانان سول، او په باميان او غور او غرستان کښې د غزنويانو تر وخته پورې لاهم پاته وو.

له دغو زابل شاهانو څخه غير له سکو پر ډيرو باندې هم خني نوشتې په يوناني يا برهمي رسم الخط پاته دی چې يوه نوشته ئې د روزګان په دره کښې د اځکزو له کلا سره پر يوه خورا لويه کرکنده باندې په يوناني خط سته دغه نوشته يو انګليسي محقق ډکټر بيوار ( بګ سري شاه زاول مهروسکي) وبلې ده، مګر زه هغه ( بګې فرزاول مهر زمي) لولم چې ګويا دغه نوشته به هم ديوه زاول شاه وي چې خپل ځان د خدايي فرخاوند د زاول مهر زمين بولي.

د غزني په چغتو کښې هم پردوو غرو باندې دوې نوشتې په يوناني خط پيدا سوېدي چې يوه خو د بودائيانو مشهوره دعا ده او پر بله پرښه باندې ( بګ سګزي شا، فرويما شا الغ ) ليدل کيږي او له دې څخه مونږ معلومولای سو چې دغو شاهانو کله خپل ځان سګزي شاه (يعني دسيستان پادشاه) هم باله، او لوي يوماشا هم له دوي څخه و.

د کوشانيانو له ابتداء يعني له لومړۍ مېلادي پيړۍ څخه بيا تر اوومې پيړۍ او دغو زابلي پادشاهانو پورې يوه ژبه په نوشتو او سکو کې استعمال سوېده چې داوسني دري ژبې اناګبله کيږي او ډير کلمات ئې داسې دي چې تراوسه هم په پښتو کښې سته مثلاً دوي خپل القاب مېر او بګ ليکلي دي او مېر تراوسه دپښتو يوه لهجه کې لمر او دری

مهر دی او بگ خو تراوسه په کندهار کښي لوی او عظيم ته وايي. په سنسکريت او اوستا کښي ئې هم خداي بگ باله، اوبگې خدای دی، چي دغه نوم تراوسه هم پښتانه ږدي، او داحمدشاه بابا لوي وزير اشرف الوزراء بگی خان نومېدی چي دا نوم له دغو زاولي شاهانو څخه راپاته دی دغسي هم په پښتو نومو ميرويس او مير زمان کښي د پخواني مېر او مهر کلمې ژوندی دی.

د دغو زاول شاهانو له نوشتو څخه درې ډبريني ليکني د وزيرستان د توچي په سيمو کي هم پيدا سوي وې چي اوس د پېښور په موزيم کښي پرتې دي او په يوناني، برهمني، کوفي خطو نوشتې لري، چي تر اوسه لا پوره نه دي لوستلي سوي.

دغه زاول يازابلستان د عربو په اسلامي فتوحاتو کښي په هجری لومړی قرن کښي مسلمانانو فتح کی او ډېر دسمو خلك ئې مسلمانان سول. مگر تر (۲۵۰ ه) پوري لا هم دلته په غزني، گرديز، باميان، روزگان کښي هغه پخواني اميران پاته وو، چي په (۲۵۸ ه) يعقوب ليث د سيستان صفاري لوي پاچا راغی او غزني، کابل ئې ونيول او تول زابل ئې پخپل سلطنت کښي شامل کی.

د بلخي سامانيانو په دوره کښي د دوي اقتدار د هلمندتر غاړو پوري د غرب له خوار را رسېدی او سيستان هم ددوي په بادشاهي کښي شامل و، مگر په نور زابل کښي تر غزني پوري هغه له کوشانو هفتلي کورنيو څخه پاته حکمرانانو موجود وو، او تر زابل يعني غزني تر گرديزه د لوېکانو په لاس کي وو، په منځني زابل يعني روزگان او جاغوري کښي دباميان دشيرانو او دغرستان دشارانو اثرونه رارسېدل، خو وروسته چي د افغانستان د شمالي خوا د تگينانو څخه آلپ تگين او بلکاتگين او



اخرته سبکتگين پر زابل راشوه سول، نو غزنه او بُست او سيستان او زمينداور او رخج يعني د ارغنداو او هلمند ناوې دوي ونيولې او سبکتگين د غزنوي شاهانو لوي کورنۍ حکمراني په (۳۶۶هـ) کال جوړه کړه چي وروسته نود سلطان محمود زابل شاه په همت،تولـه افغانستان تر واحد سياسي مرکز يعني غزني لاندي سره متحد کړ سو، ده د زابلستان دلوړو څنډو شاران او د غور سوريان او د سيستان صفاريان تول تر خپل مقتدرمرکزي سلطنت لاندي راتول کړل، او دخپلې زابلي شاهنشاهي شاهي حدود ئې شرقاً دگنگا او غرباً د دجلې تر څنډو پوري ورسول.

وروسته نو زابل د غزنوي او بيا د غوري سلطنت يو مهم توك و، او دغوريانو په شاهي کښي له (۵۵۰ تر ۶۰۰ هـ) پوري وجيرستان چي اوس ئې اجر ستان بولي، دزابلي غوري سلطنت يو مهم شهزاده نشين ولايت و. خو تر ۶۱۸ ه کال وروسته دچنگزيانو حملې پر دې ولايت باندي هم دهرات او هلمند له خوا جاري سوې، او لکه دافغانستان نور سمسور ولايتونه، زابل هم ډيری ورانی وليدي چي خرابې ئې تراوسه هم هر ځاي ليدلي کېږي.

تر دې ورانی وروسته چي بيا په هرات کښي د امير تيمور د زامنو اوکورنۍ قوي شهنشاهي جوړه سوه نو تول زابل د هلمنده تر غزني پوري د هرات د تيموري شاهانو تر حکم لاندي و، او بيانو بابر پخپلو سفرو کښي څو واره دلته تېر سو لکه چي دده يو ډبر ليك د وجيرستان په غرو کښي سته، اوداسي ښکاري چي دکندهار او روزگان له خوا په دره شالي، وجيرستان او غزني تر تېر سوېدی. زابل د چنگزيانو له تاړاکونو سره ښه مقاومت وکی دسيوري او کلات هوتکيانو او توخو دلته خپل

محلي ملـي حکومتونـه او مشـران اوجـرگې درلـودې چـي بابـا هوتـك اوملکيار او سلطان ملخي اود دوی اخلاف د پردو سـره جنگېـدل او پـه آخرکښي له همدې کورنۍ څخه لوي ملي مشـر حـاجي ميرويـس خـان راووتی ، چي په زابل اوکندهار کښي ئې د صفويانو اقتدار ختم کی اودده زوي شاه محمود تر اصفهان خپله شهنشاهي ورسوله.

د زابل خلك د ميروس او شاه محمود او شـاه اشـرف اوهوتکيـانو د حرکت پيشروان وو، او حتي په هغه لښکرو کښي چي دشاه محمود سره د اصفهان په فتح کښي ملگري وه ، پنځه زره د روزگان هزاره ورونه هم شامل وو، چي بيا نو زابل او ددې ځـاي غښتلـي خلـك تـر احمدشـاهي سلطنت راوروسته دافغانستان تکره او مروچ مروندونـه دي، او دافغـاني تولني دنوي سمون او لتون کښي بشپړه برخه لري.(۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۵۳ ل کال، ۸ مه گڼه، ۱ ـ ۵ مخونه